عبدالباری جهانی ۲۰۱۹/۱۲/۰۵

# خــــیـــــام – جـــــهـــــانـــــی

قسمت هژدهم

این بحر وجود آمده بیرون ز نهفت
کس نیست کی این گوهر تحقیق بسفت
هر کس سخنی از سر سودا گفتند
زآن روی کی هست کس نمیداند گفت
خیام

د وجود سمندر گوره له پټ ځایه دی راغلی
د تحقیق د مرغلرو لاړ یې چا نه دی پېیلی
هر چا خوله ده خلاصه کړې پکښې تول دي سرګردانه
ځکه هسې چې هستي ده چا یې راز نه دی ویلی

جهانی

یک قطرهٔ آب بـود و با دریـا شد
یک ذرهٔ خاک با زمـیـن یکـتا شد
آمـد شدن تـو انـدرین عالم چیست
آمـد مگسی بـدیـد و نـا پیدا شد

خیام

ته یو ښاښکی د اوبو یې د دریاب سیني ته لوېږې
د ذرې په څېر د مځکی پر وجود باندی هستیږې
ته پوهیږې تلل راتلل دي دې جهان ته په څه رنګ دي
لکه مچ هسي پیدا سی سترګي خلاصي کې ورکیږې

جهانی

چون روزی و عمر  بیش و کم نتوان کرد
خود را به کم و بیش، دژم نتوان کرد
کار من و تو چنانک رأی من و توست
از مـوم بدست خویش هم نتوان کرد

خیام

چې نه عمر نه روزي سو زیاتولای کمولای
لږ او ډېر لره بېځایه هسی زړه نه سو خوړلای
که هیستي لکه موم نرمه واک یې زموږ په لاس کی راکي
موږ د خپل زړه پر غوښتنو نړی نه سو سمولای

جهانی

در دایــرۀ وجـود، دیـر آمــده ایم
وز پایه مردمی، بزیـر آمــده ایم
چون عمر نه بر مـراد ما میگذرد
باری بسر آمدی که سیر امـده ایم

خیام

څه نــا وخته یــو راغلي د هستی تـر میدانونو
یــو قـدم یــو کښته ســوي د انسان تـر مقامونو
زموږ د زړه په خوښه نه دي ددې عمر شپې او ورځې
کشکي ژر وای تېرې سوي موږ ماړه یو له عمرونو

جهانی

سازنده کار مـرده و زنــده تویی
دارنــده این چـرخ پراکـنده تویی
من گرچه بـدم خواجه این بنده تویی
کس راچـه گـنـه چی آفـریننده تویی

خیام

که خوک مړه دي که ژوندي دي ته کار سازه د انسان یې
ته ښبنتن د اسمانونو ته مالک یې ته سبحان یې
زه که بد یمه هم ستا یم تا بادار د دې بنده یې
د بنده گناه به څــه وي چی خالـق د ټـول جهان یې

جهانی

زآن پیش که از زمانه تابی بخوریم

با یکدیگر امروز شرابی بخوریم

کاین چرخ فلک بگاه رفتن مارا

چندان ندهد امان که آبی بخوریم

خیام

چې زمان لا نه وي کړې فيصله زموږ د وهلو

راسه کښېنه ورځ کو تېره د سرو ميو په چښلو

زه پوهېږم چې اسمان به په ساعت کی زموږ د تللو

يـو گړی مهلت رانه کړي د اوبـو د نوشولو

جهانی

**** **** ****

تذکر: هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این شاعر و نویسندۀ معزز را مطالعه کنند، میتوانند با اجرای "کلیک" برعکس نویسنده در صفحۀ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

برای مطالعۀ بخش های اول تا هفدهم بالای لینک آتی کلیک فرمائید:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahari_khayaam_jahaani_١٧.pdf